Sprin Multidisciplinary Journal in Pashto, Persian & English

ISSN: 2584-0975 (Online)

Vol.02(03), July 2024, pp, 01-05

Journal homepage: https://sprinpub.com/smjppe

*Research article*

# An Analysis of the First Literary Period Translations in the History of Pashto Literature

# د پښتو ادب تاریخ د لومړۍ ادبي دورې د ژباړو تحلیلي څېړنه

*Alokozay Taib [1]*, Mirwais khaliqyar [2]*

[1] Department of Pashto Language and Literature, Faculty of Languages and Literature, Kabul Education University, Afghanistan
[2] Department of Pashto Language and Literature, Faculty of Languages and Literature, Nangarhar University, Afghanistan

[1]الکوزی تایب، [2]میرویس خالقیار

[1] پښتو ژبې او ادب څانګه، ژبو او ادبیاتو پوهنځی، کابل د ښوونې او روزنې پوهنتون، افغانستان.
[2] پښتو ژبې او ادب څانګه، ژبو او ادبیاتو پوهنځی، ننګرهار پوهنتون، افغانستان.

ARTICLE INFO

***Keywords:***
First Literary Period, First Translation, Formal and Content Characteristics Pashto Literature, Translator, and Systematic Translation

**کلیدي کلمې:** پښتو ادب، لومړۍ ادبي دوره، منظومه ژباړه، شکلي او محتوایي ځانګړنې، لومړنۍ ژباړه او ژباړونکی.

***Article History:***
Received: 22-01-2024
Accepted: 20-06-2024
Published: 03-07-2024

***Cite this Article:***
Taib, A., & khaliqyar, M. An Analysis of the First Literary Period Translations in the History of Pashto Literature. *Sprin Multidisciplinary Journal in Pashto, Persian & English*, 2(3), 1–5. https://doi.org/10.55559/smjppe.v2i3.366

ABSTRACT

The ancient period of the history of Pashto literature spans from the second century (Hijri) to the tenth (Hijri). Along with the many advancements in Pashto, this literary era also sees the strengthening of ties with other languages and the start of a number of translations into Pashto. Hashim bin Zaid al-Sarwani opens the translation for the first time in Pashto literature. He was a poet of the third century (Hijri), and he translated an Arabic poetry into Pashto for the first time. Following Hashim, around the close of the 9th and start of the 10th centuries, Zarghuna Kakarie translated Saadi's Bostan from Persian to Pashto. These two systematic translations, the first in the Ghazal style and the second in the Masnavi form, both deal with moral and societal themes and are translated into Pashto in a clear and easy-to-understand manner. Thus yet, just a few authors have discussed the themes; no specialized writings have been done about the analysis of this topic. Descriptive and analytical methods have been used to study the material gathered from many books, as the topic requires its own analysis and explanation. Abu Muhammad Hashim and Zarghuna Kakarie completed the first literary translations in Pashto, both of which maintained the majority of the language's morphology and linguistic combinations.

**لنډیز**

د پښتو ادب تاریخ لرغونې دوره له دویمې هجري پېړۍ څخه پیل او تر لسمې هجري پورې دوام کوي، په دې ادبي دوره کې په پښتو کې د بېلابېلو پرمختګونو تر څنګ له نورو ژبو سره د پښتو ژبې اړیکې هم ټینګېږي او پښتو ژبې ته د ژباړو لړۍ پیل کېږي. په پښتو ادب کې د لومړي ځل لپاره ژباړه د هاشم بن زیدالسرواني څخه را پیل کېږي، هاشم بن زید السرواني د درېیمې هجري پېړۍ شاعر دی او لومړی ځل یې له عربي ژبې څخه منظومه ژباړه په پښتو ژبه کړې ده، له هاشم وروسته د نهمې هجري پېړۍ په پای او د لسمې هجري پېړۍ په پیل کې د زرغونې کاکړې له لوري له فارسي ژبې څخه د سعدي بوستان په پښتو ژباړل کېږي. په دې دواړو منظومو ژباړو کې لومړۍ ژباړه د غزل په فورم کې او دویمه ژباړه د مثنوي په فورم کې اخلاقي او ټولنیز موضوعات لري چې په خورا ساده او روانه پښتو ژبه ژباړل شوي دي. د یادې موضوع د تحلیل او شننې په برخه کې تر دې دمه کومه ځانګړې لیکنه نه وه شوې، یوازې په ځینو آثارو کې یادونې شوې دي. دا چې موضوع خپل ځانګړې تحلیل او تشریح ته اړتیا لري، نو د بېلابېلو کتابونو څخه راټول شوي معلومات د تشریحي او تحلیلي مېتود پواسطه سره څېړل شوي دي. په پښتو ژبه کې لومړنۍ منظومه ژباړه د ابو محمد هاشم او لومړنۍ منظومه داستاني ژباړه د زرغونې کاکړ له لوري شوې ده چې د پښتو ژبې خپل جوړښت او ترکیبونه یې تر ډېره پکې خوندي دي.

**سریزه**

د ژبې د پرمختګ له لاملونو څخه یو لامل ژباړه ده، د ژباړې په وسیله ژبې ته له نورو ژبو څخه ډېر معلومات او مفاهیم انتقالیږي چې د ژبې او ادب په بډاینه کې اغېزمن تمامېږي. په نورو ژبو کې د نثر تاریخ د نظم په نسبت لرغونی دی، خو په پښتو ژبه کې نظم تر نثر وړاندې دی. په همدې لحاظ په پښتو ژبه او ادب کې منظومه ژباړه تر منثورې ژباړې وړاندې پیل شوې ده، چې پیل یې د هاشم بن زیدالسرواني څخه شوی دی.

هاشم لومړنی شاعر و چې د عربي ژبې یو نظم یې پښتو ژبې ته را وژباړه، له ژباړې څخه یې داسې څرګندېږي چې نوموړی په منظومه ژباړه کې ډېر پیاوړی و. د دې ترڅنګ د پښتو ادبیاتو په لومړۍ ادبي دوره کې منظومې

**Corresponding Author:*
Email: alokozaytaib52@gmail.com (*A. Taib*)
https://doi.org/10.55559/smjppe.v2i3.366
© 2024 The Authors. Published by Sprin Publisher, India. This is an open access article published under the CC-BY license
https://creativecommons.org/licenses/by/4.0

داستاني ژباړې هم شته، خو د هاشم بن زيد السرواني منظومه ژباړه داستاني ژباړه نه ده. په دې تحليلي څېړنه کې هڅه شـوې چې د پښـتو ادب د لرغوني ادبي دورې منظومو ژباړو محتوايي او شـکلي جوړښـت په هر اړخيز ډول سره وڅېړل شي.

## د څېړنې ستونيزې

دا خو طبيعي خبره ده چې هره څېړنه او ليکنه د يوې سـتونزې د حل په موخه ترسره کېږي. په پښـتو ژبه او ادب کې د ژباړې د پيل او د لومړنيو ژباړو د تحليل په اړه تر دې دمه کومه ځانگړې ليکنه نه ده شـوې چې د پښـتو ادب په تاريخ خصـوصاً په لرغوني ادبي دوره کې د ژباړو د تاريخ په پيل باندې يې بحث کړی وي، بله دا چې د پښـتو ادب په لرغوني ادبي دوره کې چې کومې ژباړې شـوې دي د هغوی شکلي او محتوايي ځانگړنې په درست شکل نه دي روښانه شوې. په پښتو ادب کې د منظومو ژباړو او منظومو داستاني ژباړو تو پير هم په درست شـکل نه دی روښـانه شـوی چې دا دواړه ډوله ژباړې په خپل منځ کې سره څه توپير لري او له کومې نېټې څخه په پښتو ژبه او ادب کې پيل شوي دي.

## د څېړنې ارزښت

هره ليکنه او څېړنه بايد لږ تر لږه په لوسـتلو وارزي، که دا نه وي يوازې به د ليکوال سـتړيا وي او بس. د دې ليکنې ارزښـت او اهميت په دې کې دی چې ژباړه د هرې ژبې د پرمختگ لپاره يوه اسـاسي او مهمه وسـيله بلل کېږي، ژبه د ژباړې په مرسته په پوهنيز، ټولنيز، ښوونيز او فرهنگي ډګر کې ژوندی پاتې کېږي او د پرمختگ بېلابېل پړاوونه وهي. ژباړه د ژبې د علمي او ادبي پرمختگ لپاره اړينه ده، ځکه که موږ د پرمختلليو ټولنو له مثبتو اړخونو او علمي برياوو څخه ځان او ټولنه خبرول غواړو او د هغوی له تجاربو څخه د څه زده کړې تمه لرو، نو ژباړې ته اړتيا ده. د پرمختلليو ټولنو د پرمختگ عوامل او هغه لارې چارې چې پواسـطه يې يادو ټولنو پرمختگ کړی؛ خپلې ژبې ته راوژباړو او د خپلې ټولنې وگړي ترې په خپله ژبه خبر کړو. دې اړتياو ته په کتو سره په پښـتو کې ژبه او ادب کې د ژباړې پيل او د راژباړل شوو نظمونو پر ځرنگوالي او څومروالي باندې بحث ته اړتيا ده چې په تاريخي لحاظ سره په پښـتو ژبه او ادب کې د ژباړې د پيل او پرمختگ په برخه کې څومره کارونه شوي دي، خصوصاً د پښتو ادب تاريخ په لومړی (لرغوني) ادبي دوره کې کومې ژباړې شـوې او په پښـتو ادب کې د ژباړې لومړني کارونه څنگه وو.

## د څېړنې موخې

1. د پښـتو ادب په لرغوني ادبي دوره کې د راژباړل شـوو نظمونو محتوايي ځرنگوالی روښانه کول.
2. د پښتو ادب په لرغوني ادبي دوره کې د ژباړو شکلي اړخ ځرګندول.
3. په پښـتو ژبه کې د ژباړې د پيل نېټه ځرگندول او د لومړنيو ژباړونکو پېژندل.
4. په پښـتو کې ادب کې لومړنۍ ژباړې روښـانه کول چې د کومو ژبو څخه شوې دي.

## د څېړنې پوښتنې

1. په پښتو ادب کې منظومې او منظومې داستاني ژباړې څه وخت پيل شوې دي؟
2. په پښـتو ژبه او ادب کې لومړنی ژباړونکی څوک او له کومې ژبې څخه يې پښتو ژبې ته ژباړه کړې؟
3. په پښتو ادب کې لومړنۍ ژباړې کومې شکلي او محتوايي ځانگړنې لري؟

## د څېړنې شالېد

په پښـتو ژبه او ادب کې به د ژباړې او د ژباړې د تاريخ په اړه خامخا کار شـوی وي؛ زما کار به هم په ځينو برخو کې له هغو ترسره شـوو کارونو سره لږڅه ورته والی لري او په ډېرو برخو کې لرېوالی او توپيرونه هم سره لري، خو په عامه توگه مې د کار ساحه ترې بېله ده او کار مې هم له هغو جلا دی. ما په پښتو ژبه او ادب کې د ژباړې او د ژباړې د تاريخچې په اړه په پښـتو ژبه ليکل شـوي يو څه کتابونه ليدلي او لوسـتي دي چې د دې موضـوع په بېلا بېلو خواوو باندې د ځينو ليکوالو له خوا ليکل شـوي دي، دا ځکه چې په ژبه او ادب کې د ژباړې د پيل تاريخ، د ژباړل شـوو آثارو شکلي او محتوايي ځانگړنې، اهميت او ارزښـت د دې غوښتنه کوي چې بايد نور زيات کار همورباندې وشي. له نورو ژبو څخه پښـتو ژبې او ادب ته د راژباړل شـوو اثارو د مخينې تر څنگ؛ بايد د هغوی پر شـکلي او محتوايي جوړښـت او نورو هغو اړخونو چې لا تر اوسه نه دي راسپړل شوي؛ څېړنې وشي. دا چې د ليکنې موضوع (په پښتو ادب په لومړی ادبي دوره کې د ژباړو تحليلي څېړنه) ده؛ په ياده موضوع باندې تر اوسه پورې په دې برخه کې هېڅ چا ځانگړی کار نه دی کړی او دا لومړی ځل دی چې د څېړنې لپاره ياده موضوع ټاکل شوې ده، خو دا چې په پښتو ژبه او ادب کې د ژباړې په اړه او د راژباړل شـوو آثارو د شننې په برخه کې ځينې آثار ليکل شـوي دي؛ زه دلته ترې لنډه يادونه کوم:

د پښـتو ژبې او ادب مشـهور څېړونکي پوهاند عبدالحی حبيبي د پښـتو ادبياتو تاريخ (دويم ټوک) کې د هاشـم بن زيدالسرواني د منظوم ژباړلې شعر او د نوموړي د علمي شخصيت په اړه وايي: «د دې عالم او اديب سړي کوم شـعر چې زموږ په لاس کې دی د پټې خزانې په ذريعه له (لرغوني پښـتانه) څخه رانقل شوی دی. لکه دا کتاب چې تصريح کوي هاشم سرواني د درو ژبو شاعر و، هم يې په پښـتو او هم يې په دري او عربي اشـعار ويل؛ خو د ده عربي او فارسي شعر د پټې خزانې مؤلف نه دی رانقل کړی که فارسي شعر زموږ په لاس کې وای؛ نو به يقيناً د دې ژبې له اولو شاعرانو څخه هم وای.» (حبيبي، ۱۳۸۴ل.م م ۴۵۳ ـ ۴۵۴)

سرمحقق زلمي هېوادمل په خپل اثر پښـتو ادبياتو تاريخ کې(پښـتو ادبياتو کې د حکايتي اثارو لومړنۍ نمونې) تر سرليک لاندې ليکلي: «زموږ په ولس کې هم له ډېرې پخوا زمانې دغه نقلونه موجود دي چې په کليو او بانډو کې يې خلک د تفريح د يوې وسـيلې په توگه له ويلو او اورېدلو څخه خوند اخلي اما د پښتو په تحريري(ليکلو) ادبياتو کې موږ حکايتي منظوم اثار په لسمه هجري پېړۍ کې مومو، په دغه حکايتي اثارو کې تر ټولو پخوانی اثر د زرغونې د پښتو بوستان دی... خو دغه اثر له فارسي څخه پښتو ترجمه شوی دی، په پښتو نظم شـوی حکايتي اثر د دوسـت محمد کاکړ غرغښـت نامه ده چې پر (۹۲۶ هـ ق) کال کې يې په ړوب کې نظم کړی دی.»(هېوادمل، ۱۳۷۹ل.م ۷۵ ).

همدا شـان پوهاند عبدالقدير خموش د زرغونې کاکړې د ژباړې د ارزښت په اړه ليکلي: «د زرغونې کاکړې دا ژباړه ډېره مشهوره ده او ښايي چې دا په داگه ووېلای شـو، چې تر ډېرو غځيو ژباړو روانه او خوږه ده.» (خموش، ۱۳۹۸ل. م ۱۳).

د پښتو لرغوني شاعري په نوم اثر په پښتو ادب تاریخ کې د لومړني ژباړن او له نورو ژبو سره د پښتو ژبې د اړیکو په اړه لیکي: «که چېرې موږ د پښتو ادبیاتو په تاریخ کې د نورو ژبو له ادبیاتو سره د پښتو ادبیاتو د اړیکو او ژباړې د څرک ایستلو کوښښ وکړو، نو دا څرک په دریمه هجري پېړۍ کې ایستلی شو.

په پښتو ژبه کې د ژباړې لومړنی څرک هغه وخت ته رسېږي چې ابو محمدهاشم د زید سرواني البستي زوی د خپل استاد یو عربي شعر په پښتو نظم وژباړه او دا نظم د پټې خزانې مولف محمد هوتک د شیخ کته له لرغوني پښتانه څخه رانقل کړ.» (غني، ۱۳۹۲ل. م ۶۱)

## د څېړنې مېتود او کړنلاره

د دې لیکنې ډول کتابتوني او میتود یې تشریحي او تحلیلي دی، په دې تړاو تر ډېره هڅه شوې چې د دې ادبي لیکنې د بشپړوالي لپاره له مختلفو هغو کتابونو څخه ګټه واخیستل شي چې د ژباړې او په پښتو ادب کې د ژباړې د تاریخ په اړه لیکل شوي دي، یاد اثار په څېرتیا سره مطالعه شوي او د ماخذ ښودنې له اصولو سره سم ترې ګټه اخیستل شوې ده.

## د لومړۍ ادبي دورې د ژباړو تحلیلي څېړنه

د پښتو ادب په لومړۍ ادبي دوره کې دوه منظومې ژباړې لاس ته راغلي دي چې لومړۍ یې د هاشم بن زید السرواني منظومه ژباړه ده. دویمه منظومه ژباړه د زرغوني کاکړې د شیخ سعدي شیرازي بوستان دی.

دلته لومړۍ ژباړه پېژنو او بیا د پښتو ادب په لرغوني ادبي دوره کې د ترسره شو ژباړو تحلیلي کتنه وړاندې کوو. د ژباړې د پېژندنې په اړه په کتابونو کې بېلابېل تعریفونه وړاندې شوي دي. ژباړه له یوې ژبې څخه بلې ژبې ته د الفاظو، مفاهیمو او مکالمو په سمه بڼه اړولو ته وايي. ژباړه په پښتو ژبه کې د (ژبې + اړولو) له ترکیبه جوړه کلمه ده. په عربي او فارسي ژبو کې ورته ترجمه او په انګلیسي‌ـ‌ژبه کې ورته ترانسلیشن (Translation) نومونه کارول کېږي. د ژباړې د پېژندنې او تعریف په اړه یو لیکوال لیکي: «ژباړه په لغت کې له یوې ژبې څخه بلې ژبې ته د مانا لېږد دی او په اصطلاح کې هغه هنر دی چې د یوې ژبې مطلب په بله ژبه کې د هغې ژبې د لوستونکي د پوهاوي وړ ګرځوي، دا لېږد باید داسې وي چې که متن لیکوال ته هم وړاندې شي؛ نو کوم اعتراض ورباندې ونه لري، یانې خپل یې وبولي او تایید یې کړي.» (رحماني، ۱۳۹۹ل. م ۱۷)

پورته تعریف ته په کتو سره د الفاظو په لړو تغییر د ژباړې فن اثر لیکوالې د ژباړې د پېژندنې په اړه د امریکایي لیکوال جان کتیفورډ نظر داسې راوړی دی: «ژباړه د یوې ژبې د متني توکو لپاره په بله ژبه کې معادل موندلو ته وايي، چې د دواړو ژبو معیارونه او تحلیلي نازکۍ په پام کې نیول شوي وي، یا ژباړه له یوې ژبې څخه بلې ژبې ته د یوه متن د پیغام لېږدونه ده. د ژباړې په وسیله د بشر‌ـ‌فکر او تجربه له یوې ژبې څخه بلې ژبې ته لېږدول کېږي، ژباړن هغه کس ته وايي، چې یوه ژبه په بله ژبه واړوي.» (علیزی، ۱۴۰۰ل. م م ۲۵ – ۲۶)

دا چې زموږ اصلي موضوع د پښتو ادب په لرغوني ادبي دوره کې د ژباړو تحلیلي څېړنه ده؛ دلته د ژباړې پر پېژندنه او د ژباړې اړوند په نورو مسایلو باندې نور بحث کول نه غواړو راځو خپلې اصلي موضوع ته چې د پښتو ادب په لرغوني ادبي دوره کې کومې ژباړې شوي دي او څه ځانګړنې لري.

## ۱ـ د هاشم بن زید السرواني د منظومې ژباړې تحلیل

په پښتو ژبه کې لومړنی او څرګنده ژباړه د ابو محمد هاشم ابن زید السرواني ده چې په دریمه هجري پېړۍ کې یې د عربي ژبې د یو ړوند شاعر (ابن‌خلاد) شعر پښتو ژبې ته راژباړلی دی. په پښتو ژبه او ادب کې تر دغې ژباړې وړاندې موږ ته د بلې کومې ژباړې څرک نه دی معلوم، ښایي تر دې وړاندې هم له نورو ژبو څخه پښتو ژبې ته ژباړې شوې وي، خو دا چې مستند او باوري اسناد په لاس کې نه لرو، نو د هاشم ابن زید السرواني ژباړلی شعر په پښتو ژبه او ادب کې لومړنۍ ژباړې او هاشم د لومړني ژباړن په حیث د تاریخ په پاڼو کې پېژنو.

په پښتو ادب کې منظومه ژباړه له هاشم بن زید السرواني څخه پیلېږي چې د دریمې هجري پېړۍ شاعر و. نوموړی په (۲۲۳هـ ق) کال د هلمند د بست په سروان کې زېږېدلی و. لومړنۍ زده کړې یې د خپلې سیمې له علماوو څخه کړې وې او بیا عراق ته تللی او برجسته علماوو سره یې ناسته پاسته کړې چې په دغو علماوو کې یو هم ابن‌خلاد چې په (ابي العینا) مشهور و له هغه سره یې شاګردي کړې وه او ډېر څه یې ترې زده کړي و، هاشم په (۲۹۴هـ ق) کال کې بېرته خپل هېواد ته راستون شوی او په (۲۹۷هـ ق) کال کې وفات او د هلمند په سروان کې خاورو ته سپارل شوی ( شېرزاد، ۱۳۹۷ل. م ۴۴).

هاشم ابن زید السرواني د خپل استاد او مشهور عرب عالم ابن‌خلاد عربي شعر پښتو ژبې ته راژباړلی دی. اصل عربي شعر داسې دی:

من کان بملک درهمین تعلمت شفتام انواع الکلام فقالا
وتقدم الفصحاء فاستعموا الیه و رایته بین الوری مختلا
لولا دراهمه اللتی فی کیسه لرایته شر البریة حالا
ان الغنی اذا تکلم کاذبا قالو صدقت و ما نطقت محالا
و اذ الفقیر اصاب قالو لم تصب و کذبت یا هذا و قلت ضلالا
آن الدارهم فی المواطن کلها تکسو الرجال مهابة و حلالا
فهی اللسان لمن اراد فصاحته و هی السلاح لمن راد قتلا

(حبیبي، ۱۳۸۴ل. م ۴۵۵)

د پورته عربي شعر ژباړه ابو محمد هاشم ابن زید السرواني په ډېر فصاحت، رواني او ساده ګۍ سره په پښتو نظم کړې چې په عربي ژبه د نوموړي د علمي صلاحت ښه څرګندونه کوي او د ژباړې د قوت نخښې یې ترې ښکاره کېږي. د هاشم ژباړلی شعر په لاندې ډول سره دی:

ژبه هم ښه وینا کاندي چې وینه د خاوند په لاس کې زر او درهمونه
ژبور ورله ورخي وینا یې اروي د درهم خاوندان تل وي په وياړونه
که درهم یې څښې ورک سو سې نتلی پر نرۍ یې وي په خرو پېژندنه
که بډای سوني وبولي خلق وايي دا وینا ده رښتیانیه له رښتو نه
که بې وزله وايي رښتیا خبره نور وايي دا خو سوني دي تیرونه
هو درهم ښندي هر چا له لویه برخه د درهم د خاوند هر ځای پرتمونه
درهم ژبه ده که څوک ژبور کېږي ده وسله که څو په کاندي قتالونه

(حبیبي، ۱۳۸۴: ۴۵۴ )

دلته پورتنی ژباړل شوی نظم له درو اړخونو تر تحلیلي کتنې لاندې ونیسو:

### الف) د ژباړې ژبنی اړخ

د دې پښتون شاعر شعري وړتیا او ژبنی خواک په همدې سره په ښه شان څرګندېږي چې د خپل استاد او شاعر اوه بیتونه یې په پښتو ژبه کې په اوو بیتونو باندې ژباړلي دي چې ژبه یې روانه او عام فهمه ده. د ده د ژباړل شوي شعر ژبه

ډېره پخه، درنه او پوخوالي له مخې داسې نه ښکاري چې ژباړه دې وي (غني، ١٣٩٢ل. م ٦٤).

په ژبني اړخ کې دا یادونه کولای شو چې په یاد نظم کې د عربي ژبې لغتونه (قتالونه، خلق، درهم) راغلي دي دا چې سرواني په عراق کې له یوه عربي استاد سره شاګردي کړې او له هغه سره نېږدې پاتې شوی، نو ځکه یې په منظومه ژباړه کې د عربي ژبې اغېز لیدل کېږي او د دې ترڅنګ د پښتو ژبې ډېر سوچه لرغوني لغتونه هم پکې شته. لکه: (سونېي، خړو، نتلی، تیرونه، پرتمونه، ویاړونه او ... ) په دغه نظم کې د پښتو ژبې پخواني لغتونه چې اوس متروک دي؛ هم شته او ځینې پښتو لغتونه اوس هم د ربښې له مخې د استعمال وړ دي. لکه: ویاړونه، سونبي، بلل، تېرونه چې اوس ویاړ، ویاړل، سونبي ویشتل، تېری کول په پښتو ژبه کې شته دي. نوموړی شعر د خپل ژبني جوړښت او ترکیبونو له مخې د پښتو ژبې د تحول په تاریخ کې د مطالعې ځانګړی ځای لري، ځکه هغه لغات او ترکیبونه چې په دې شعر کې کارول شوي دي؛ ډېری اوس په لرو ډېر توپیر سره په ژبه کې شته دي چې د تاریخ په اوږدو کې د ژبې د تحول او تغییر ښکارونديي کوي.

### ب) د ژباړې بڼه

د پورتني نظم د بڼې په باب ښاغلي استاد هېوادمل لیکلي: «د ابو محمد هاشم پارکی په شکلي لحاظ یوه قطعه ده، چې دا شعري ډول له همدې وخته پښتو ادبیاتو ته لاره پیدا کوي او پښتو شاعري د شرقي شاعرۍ له شعري ژانرونو سره اشنا کېږي.» (هېوادمل، ١٣٧٩ل. م ٤٣).

د استاد هېوادمل په وینا د ابو محمد هاشم راژباړلی شعر په شکلي لحاظ سره قطعه ده، دا شعر په پښتو کې د قطعې ژانر لومړنی بېلګه بللې ده. حال دا چې ادبپوهان د قطعې لپاره کوم تعریف او پېژندنه وړاندې کوي دا شعر قطعې ته نه پاتې کېږي. قطعه هغه شعري فورم دی چې مطلع ونه لري، یا د لومړي بیت دواړه مسرې یې سره هم قافیه نه وي د شعر لومړی مسرې له قافیې څخه ازادې او دویمې مسرې یې سره په خپلو کې همقافیه وي، خو دلته لومړی او دویمه مسره سره هماقیه دي، د لومړی مسرې قافیه (وینه) او د ویمې مسرې قافیه (درهمونه) ده. استاد ازمون د قطعې په اړه لیکي: « ما چې څومره قطعې لوستي دي، ماته داسې کوم ځانګړی فورم چې په مستقله توګه رامنځته شوی وي، نه دی برېښېدلی، دا د کوم بل ژانر پاتې شوې برخه یا ټوټه ده، یا کوم ژانر نیمګړی لیکل شوی دی، پر هغه د قطعې نوم ایښی دی.» (ازمون، ١٣٩٨ل. م ٨٤).

د پورته څرګندونو څخه داسې معلومېږي چې ابو محمد هاشم له عربي ژبې څخه کوم شعر پښتو ته راژباړلی په عربي ژبه کې نوموړی شعر د شکلي جوړښت له مخې قطعه ده، خو پښتو ژباړه یې د فورم له مخې د استاد ازمون د خبرې په تائید غزل ته ورته ده.

### ج) د ژباړې منځپانګه

پورتنی نظم د محتوا په لحاظ یو اخلاقي او ټولنیز نظم دی چې د غریب او بېوزلو توپیر پکې له ورایه څرګندېږي. له بده مرغه زموږ په ټولنه کې دا دود دی چې خلک پیسې او سرمایه د هرڅه اساس ګڼي او د یو شتمن کس هر ډول وینا ته خلک په درنه سترګه ګوري، خو د بې وزله انسان ریښتیني وینا دروغ ګڼل کېږي. د دې خبرو د ثبوت لپاره پورتنی نظم ښه بېلګه کېدای شي.

### ۲- د زرغوني کاکړې د منظومې ژباړې تحلیل

د پښتو ادب په لومړۍ ادبي دوره کې دویمه منظومه ژباړه د زرغونې کاکړې ده چې د شیخ مصلح الدین سعدي «بوستان» یې په پښتو نظم ژباړلی دی. په دې اړه په پټه خزانه لیکي چې: «زرغونه د ملا دین محمد کاکړ لور وه په پنجوایي کې اوسېده او له پلاره یې وکا تحصیل د علومو او د فصاحت احکام یې زده کړل او د فصحاوو اشعار یې ولوستل، زرغونه په حباله د سعد الله خان نورزي وه، چې توریالي زامن درلودل او ټول د علم او هنر خاوندان و، ماته هسې نقل وکا زما پلار چې زرغونې د شیخ مصلح الدین سعدي (رح) د بوستان ټول په پښتو شعر نظم کا او نوم یې و «بوستان د پښتو» چې دا کتاب پر سنه (٩٠٣هـ ق) پای ته ورساوه او ټول نقاط یې عارفانه او نصایح حکیمانه یې په پښتو کړل علاوه پر دې زرغونې نور اشعار او غزلونه هم وویل او په زمره د بوستان یې فصحایې شهرت وکا هسې چې موزونانو د روزګار به یې اشعار لوستل او د پښتو په بوستان یې سیر کا او د ګلونه د پند او نصحت به یې ټولول.» (هوتک، ٢٠٠٥م. م ١٩٢).

د زرغونې کاکړې ژباړلی منظوم حکایت د پښتو ژبې په تاریخ کې لومړنی ژباړل شوی حکایت او د ژباړې د پیل له مخې دویمه ژباړه ده چې د ابو محمد سرواني تر ژباړې راوروسته موږ بله د پښتو داسې پخه او کره ژباړه نه لرو چې له هرې خوا دې په ټول پوره وي او نه تر موږ پورې رارسېدلې ده، خو د ابو محمد هاشم سرواني له ژباړې څخه سوونه کلونه وروسته د زرغونې کاکړې د «بوستان» پښتو ژباړې بېلګه د پټې خزانې په برکت رارسېږي؛ له بېلګې څخه یې دا اټکل کولای شو چې ډېره خوندوره او په ټول پوره ژباړه ده، هېڅ سکتګې او پېچلتیا نه لري، داسې روانه ژباړه ده، لکه ژباړه چې نه وي، که څېرنه څوک د پښتو ژباړې تاریخ لیکي، نو هرومرو به د زرغونې کاکړې ژباړه د پښتو ژباړې په تاریخ کې لومړۍ منظومه حکایتي(داستاني) او دویمه منظومه ژباړه وبولي (خموش، ١٣٩٨ل. م ١٢).

د سعدي اصل شعر چې زرغونې کاکړې پښتو ژبې ته ژباړلی دی په دې ډول سره دی:

| | |
|---|---|
| شنیدم که وقتې سحر گاه عید | ذکر ما به آمد برون بایزید |
| یکی طشت خاکستر شخص بی خبر | فرو رخته از سرایی به سر |
| همی گفت شور یده دستار وموی | کف دست شکرانه مالان به روی |
| که ای نفس من در خور آتشم | به خاکستر روی در هم کشم |
| بزرگان نگردند در خود نگاه | خدا بینی او خویشتن بین مخواه |
| بزرگی به ناموس و گفتار نیست | بلندی به دعوی و پندار نیست |
| تواضع سر رفعت افراز دت | تکبر به خاک اندر انداز دت |
| به گردن فتد سرکش تند خوی | بلندیت باید بلندی مجوی |

(بختاني، ١٣٦٢ل. م ٤٥)

پټې د خزانې د زرغونې د پښتو بوستان څخه یو حکایت رانقل کړی چې دلته یې ذکر کوو:

| | |
|---|---|
| اورېدلې مې قیصه ده | چې له شاتو هم خوږه ده |
| د اختر په ورځ سهار | بایزید چې و رویدار |
| له حمامه راوتلی | په کوڅه کې تېرېدلی |
| ایرې خاورې چا له بامه | راچپه کړلې نا پامه |
| مخ او سر یې سو ککړ | په ایرو په خاورو خړ |
| بایزید په شکر کښو شو | د خپل مخ په پاکېدو شو |
| چې زه وړ یم د بل اور | چې په اور کې سم نسکور |
| له ایرو به څه بد وړمه | یا به لړ شکوه کومه |
| هو! پوهانو ځان ایرې کړ | له لوینې یې ځان پرې کړ |
| څوک چې ځان ته ګوري تل | خدای ته نسي کړای کتل |
| لویي تل په ګفتار نه ده | لویه خبره په کار نه ده |
| تواضع به د سر لوړ کا | تکبر به د سر څوړ کا |

(صیاد، ١٣٩٧ل. م م ١٧- ١٨)

**الف – د ژباړې ژبنی اړخ**

د زرغوني کاکړې د ژباړل شوی حکایت ژبنی اړخ هم خورا مهم دی، ځکه چې د پښتو ژبې د کندهاري ګردود او تر څنګ یې ځنې اوس مهالي کاریدونکي لغات او کلمات خوندي کړي دي. استاد زیار د دې ژباړې د ژبنې ارزښت په اړه لیکي: «دغه پارکې د نهمې او لسمې سپوږمیزې لیږدې پیړی د ټولنیزې ادبي پښتو لړ تر لړه د کندهاري هغې په نومینه (تشخیص) کې یوه کوچنی ونډه اخلي.» (زیار، ۱۳۶۲ل. م ۳۵).

د ژبني اړخ بله برخه یې دا ده چې زرغوني کاکړې د سعدي د اصل شعر چې (۸) مسرې دی په (۱۲) مسرو سره ژباړلي او په ژباړه کې یې (۴) مسرې ورزیاتې کړې دي.

د زرغوني کاکړې ژباړلی نظم ژبني لحاظ سره د لاندې ځانګړنو لرونکی دی:

۱- په نظم کې کوم لرغوني او ارخایک لغتونه نه ترسترګو کېږي، بلکې د اوسني پښتو او کندهاري ګردود سره یې کوم ځانګړی توپیر نشته.

۲-د وییکو د کارونې په برخه کې د پښتو ژبې له اوسني معیاري جوړښت سره سم وییکي کارولي دي.

۳-ځینې کلمې یې د کندهار له اوسني ګردود سره سر خوري لکه راوتلی، تیریدلی او لوخېره.

۴- د ختیځ ګردود په خلاف یې شول کلمه په کندهاري ګردود سول لیکلې ده. (زیار، ۱۳۶۲ل. م م ۴۱ – ۴۲).

په ټوله کې ویلی شو چې د زرغوني د ژباړې ژبه روانه، سلیسه، خوږه او په تول پوره ده.

**ب – د ژباړې بڼه**

د بڼې له مخې د سعدي فارسي شعر مثنوي دی چې زرغوني کاکړې هم نوموړی حکایت د مثنوي په قالب کې ژباړلی دی، خو له اصل شعر سره د پښتو ژباړه دومره توپیر لري چې اصل شعر ټول (۸) بیته دی چې هره مسره یې (۱۱) څپې لري، خو پښتو ژباړه یې (۱۲) بیتونه دي چې هر مسره یې (۸) څپیزه ده.

**ج – د ژباړې منځپانګه**

د زرغوني کاکړې ژباړل شوی حکایت د منځپانګې له مخې یو اخلاقي نظم دی، د دې نظم د منځپانګې په اړه د پښتو ادبیاتو تاریخ لرغوني دورې په نوم اثر لیکوال د ښاغلی محمد اسماعیل یون د لیکنې په حواله لیکي: « که موږ په پښتو ادب کې د اخلاقي شاعرانو له پاره یوه مخصوصه ډله ومنو، نو زرغونه کاکړه به د خپل پښتو بوستان سره د هغوی په سر کې ولاړه وي. موږ زرغونه د شیخ سعدي د بوستان په منظومه ترجمه د اخلاقي شاعرانو له ډلې څخه منلی شو.» (شیرزاد، ۱۳۹۷ل. م ۱۱۸).

ویلی شو چې د زرغوني کاکړې ژباړلی حکایت د محتوا په لحاظ اخلاق او نصیحتونه لري چې انسان باید د خپلو اخلاقو د لوړاوي لپاره تریې ګټه واخلي. د یورتني داستان موضوع د لويي او تکبر پر ضد راڅرخي، تواضع د انسان د لوړ شخصیت معیار ګڼي او انسانان تواضع ته رابولي.

**پایله**

د پایلې په توګه ویلی شو چې د پښتو ادب تاریخ په لومړی (لرغوني) ادبي دوره کې پښتو ژبه له نورو پرمختګونو سره سره د نړۍ له معتبرو ژبو سره اړیکې هم جوړوي، له دغو ژبو څخه پښتو ژبې ته د منظومو آثارو د ژباړلو لړۍ پیل کېږي. په پښتو ژبه او ادب کې لومړنی تر لاسه شوې ژباړه د ابو محمد هاشم سرواني ده چې د خپل استاد ابن‌خلاد عربي شعر یې په پښتو نظم ژباړلی دی، دغه ژباړه د فورم له مخې غزل، د محتوا له مخې یوه ټولنیزه او اخلاقي موضوع ده. د هاشم ژباړلی شعر په عربي ژبه کې اووه مسرۍ لري چې ابو محمد هاشم د خپل علمي او ادبي ذوق او لوړې پوهې درلودلو له مخې په اوو بیتونو کې پښتو ته ژباړلی دی.

د پښتو ادب په لومړۍ ادبي دوره کې دویمه ژباړه د زرغوني کاکړې پښتو بوستان دی چې د شیخ سعدي د فارسي بوستان پښتو ژباړه ده، د دې بوستان ټوله ژباړه تر اوسه پورې نه ده تر لاسه شوې، یوازې یو حکایت یې پټې خزانې ثبت کړی او تر موږ پورې رارسیدلی دی. دغه حکایت په فارسي ژبه کې اته بیته، خو پښتو ژباړه یې په دولسو بیتونو کې شوې ده، دغه ژباړه د فورم له مخې مثنوي ده. د دې ژباړې ژبنی ارزښت په دې کې دی چې د خپل مهال ځینې کلمات یې خوندي کړي او د پښتو ژبې د لویدیز ګردود کلمې لري.

**ماخذونه**


ازمون، لعل پاچا.(۱۳۹۸ل). ادب تیوري. ننګرهار: ختیځ خپرندویه ټولنه.

حبیبي، عبدالحی.(۱۳۸۴ل). د پښتو ادبیاتو تاریخ (لومړی او دویم ټوک). پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

خدمتګار بختانی، عبدالله. (۱۳۶۲ل). یک ګل از دو بوستان دو ګل از یک بوستان (مقاله)، د زرغوني یاد. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي، د پښتو څېړنو بین المللي مرکز.

خموش، عبدالقدیر. (۱۳۹۸). د ژباړې فن او شالید. دریم چاپ. کابل: نویساخپرندویه ټولنه.

رحماني، ګل الرحمن. (۱۳۹۹ل). د ژباړې تیوري. کابل: سمون: خپرندویه ټولنه.

زیار، مجاوراحمد. (۱۳۶۲ل). د زرغوني د شعر ژبه (مقاله)، د زرغوني یاد. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي، د پښتو څېړنو بین المللي مرکز.

شېرزاد، پښتون آقا. (۱۳۹۷ل). د پښتو ادبیاتو لرغوني دوره. کابل: نویسا خپرندویه ټولنه.

صیاد، سلیمان. (۱۳۹۷). منظوم داستاني ادبیات (کلاسیکه دوره). جلال آباد: مومند خپرندویه ټولنه.

علیزی، صحرا. (۱۴۰۰ل). د ژباړې فن. کابل: نویسا خپرندویه ټولنه.

غني، سیدغني. (۱۳۹۲ل). د پښتو لرغوني شاعري. ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه.

هوتک، محمد. (۲۰۰۵م). پټه خزانه. پېښور: آریان خپرندویه ټولنه.

هېوادمل، زلمی. (۱۳۷۹ل). د پښتوادبیاتو تاریخ (لومړی ټوک). پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.